# پرې يې ږده، يقينا چې له پاکۍ سره مې پښو کړي دي(يعنې په اودس مې پښو کړي دي)

له مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په يو سفر کې وم، نو زه ټيټ شوم چې (د اودس پر مهال يې) موزې وباسم، نو ويې فرمايل: «دَعْهُمَا، فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ». « پرې يې ږده، يقينا چې له پاکۍ سره مې پښو کړي دي(يعنې په اودس مې پښو کړي دي)» نو مسح يې پرې وکړه.

[صحيح] [متفق عليه دی، او دا لفظ د بخاري دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په يو سفر کې و چې اودس يې وکړ، نو کله چې پښو وينځلو ته ورسېده، مغيره بن شعبه دواړه لاسونه ور اوږده کړل تر څو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پښو څخه موزې وباسي چې پښې ومينځي! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: پرې يې ږده او مه يې باسه، يقينا چې دواړه موزې مې په داسې حال کې پښو کړي دي چې زه په طهارت کې وم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د پښو وينځلو پر ځای په خپلو دواړو موزو مسح وکړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3014

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee